د حنفي فقهې مطابق

# د روژې مهمې مسئلې


مؤلف

مفتي سيد عمر آغا


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

د حنفي فقهي مطابق

# د روژې مهمې مسئلې

مؤلف

مفتي سيد عمر آغا

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

**الحمد لله وکفی و سلامٌ علی عباده الذین اصطفی، أما بعد:**

دا څرګنده خبره ده چې کله یو مسلمان د کوم فرض عبادت په ادا کولو مکلف شي، نو د هغه عبادت اړوند ضروري مسائل زده کول پرې **فرض عین** ګرځي، تر څو خپل عبادت د شریعت له اصولو سره سم ادا کړي. له همدې جملې څخه د **رمضان المبارک د میاشتي روژه** ده چې مسلمانان یې هر کال په شوق او مینې سره نیسي، خو په ډېرو احکامو او ضروري مسئلو کې ناخبره وي.

له همدې امله اړتیا وه چې د روژې د مهمو او ضروري مسئلو یوه داسې رساله ولیکل شي چې **په پښتو ژبه، ساده انداز او آسانه بیان** ترتیب شوې وي، تر څو عام مسلمانان ترې ګټه واخلي.

نو په همدې مقصد دا رساله ترتیب شوه، چې په دې کې د روژې مهم او ضروري مسائل د **حنفي فقهي مطابق** راټول شوي دي، په ځانګړي ډول د **مېرمنو اړوند مسائل په وضاحت** سره بیان شوي دي، او همدارنګه د روژې **جدید مسائل** هم پکې ځای پر ځای شوي دي، چې د دې رسالې اهمیت نور هم زیاتوي.

الله تعالی دي دا مختصره رساله په خپل دربار کې قبوله کړي او موږ ټولو ته دي د شریعت د اصولو سره سم ټول عباداتونه ادا کولو توفیق را کړي. **آمین**

**والله ولي التوفیق**

**مفتي سید عمر آغا**

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک


د روژې په هکله ........................................ 6

زه ولي د روژې مسایل زده کړم؟ ................................ 8

د روژې مسئلې ........................................ 9

د نیت مسئلې ........................................ 10

د روژې مفسدات ........................................ 13

د روژې مکروهات ........................................ 20

د هغو شیانو بیان چې نه روژه په ماتیږي او نه هم مکروه کیږي: ...... 24

د روژې مستحبات ........................................ 27

د کفارې مسئلې ........................................ 28

د مریض، معذور، شیخ فاني او د فدیې مسئلې ........................ 31

د میرمنو اړوند مسئلې ........................................ 35

د نوی ځوان شوی هلک او انجلۍ مسئلې ........................ 44

د روژې جدید مسئلې ........................................ 45

د اعتکاف مسئلې ........................................ 55

ketabton.com - The Digital Library

د صدقة الفطر (سرسايې) مسئلې.................................59

د مؤلف په اړه.........................................65

ketabton.com - The Digital Library


**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د روژې په هکله

روژه د اسلام د پنځو رکنونو څخه یو مهم رکن دی چې د هجرت په دویم کال د شعبان په میاشت کې فرض شوې ده، روژه د خیر او برکاتو حاصلولو یو داسې موسم دی چې هر مومن یې په همدې موسم کې په ګټه کولو مامور شوی دی، په همدې میاشت کې قرآن شریف پر محمد ﷺ را نازل شوی دی، څوک چې د رَمَضَان المبارک د میاشتې روژې یوازې د الله ﷻ لپاره ونیسي د هغه مخکنې ټول ګناهونه بخښل کیږي، د رَمَضَان المبارک د میاشتې په راتګ سره د آسمانونو دروازې، د جنتونو دروازې او د الله تعالی د رحمت دروازې خلاصې شي، د دوزخ او جهنم دروازې بندې کړل شي، په دې میاشت کې هره ورځ ملائکې اعلان کوي: اې د خیر غوښتونکیه! وړاندې راشئ، اې د بدۍ غوښتونکیه! ودریږئ (ګناهونه پریږدئ)، د الله تعالی له لورې د دې میاشتې په هره شپه کې ډیر خلګ د دوزخ څخه آزاد کړل کیږي، د دې میاشتې په ورځ کې روژې فرض کړل شوې دي او په شپه کې یې تراویح سنت کړل شوې دي، په دې میاشت کې د روژه دار د هر ښه کار ثواب تر اووه سوه چنده پورې ورکول کیږي چې دا په دې میاشت کې د الله ﷻ له لورې د بندګانو لپاره یوه ځانګړې ډالۍ ده، په دې میاشت

ketabton.com - The Digital Library


کې د مومن په رزق کې پراختیا راځي، که مومن د دې میاشتې په قدر پوه شي نو دغه آرزو به وکړي چې کاشکي ټول عمر روژه شي، په دې میاشت کې نفلي عبادت ادا کول داسي ثواب لري که په نورو میاشتو کې چې فرض عبادت یو څوک ادا کړي، او په دې میاشت کې فرضي عبادت ادا کول داسي ثواب لري لکه یو څوک چې د کال په نورو میاشتو کې (۷۰) اویا فرض عبادتونه ادا کړي، څوک چې په دې میاشت کې د روژه مات پر وخت روژه دار ته د روژې ماتولو لپاره یو شی (که خورما وي، که یو غړپ اوبه وي او که یو غړپ شیدې وي) ورکړي دغه کس ته به الله ﷻ درې انعامونه ورکړي: **(۱)** ټول گناهونه به ور معاف کړي، **(۲)** دی به د دوزخ له اور څخه آزاد کړي، **(۳)** او ده ته به د هغه روژه دار د روژې په شان ثوابونه ورکړي او په دې سره به د روژه دار په ثواب کې هیڅ کموالی نه راځي، په دې میاشت کې د محمد ﷺ امت ته پنځه داسي مخصوص شیان ورکړل شوي دي چې بل امت ته نه دي ورکړل شوي: **(۱)** د روژه دار د خولې بدبویي د الله ﷻ په نزد له مشکو څخه خوږه ده، **(۲)** روژه دارانو ته ماهیان د مغفرت دعاوې کوي ترڅو چې دوی روژې نه وي ماتي کړي، **(۳)** له دوی لپاره هره ورځ جنت مزین کیږي او الله ﷻ جنت ته فرمایي: نږدې ده چې زما نیک بنده گان د دنیا خوارۍ له ځان څخه وغورځوي او ستا خوا ته راشي، **(۴)** ټول سرکښه شیطانان په ځنځیرونو تړل کیږي، **(۵)** د دې میاشتې په

ketabton.com - The Digital Library


آخره شپه کې ټولو روژه دارانو ته مغفرت کیږي، د روژه نیوونکي دعا تر هغه پورې قبلیږي ترڅو چې یې روژه نه وي ماته کړې، په دې میاشت کې یوه شپه ده چې هغه د زرو میاشتو څخه غوره ده، خلاصه دا چې دا میاشت په بشپړ ډول د خیر، ثوابونو او ګټې میاشت ده.

## زه ولې د روژې مسایل زده کړم؟

دا چې په اسلام کې د دې میاشتې ډیر لوړ مقام دی او د کال پر نورو میاشتو ډیر زیات فضیلت لري، له دې میاشتې د برکتونو څخه یواځې هغه کس په پوره ډول برخمن کیدلای شي چې د دې میاشتې اړوند دیني او شرعي مسایلو باندې خبر وي ځکه بې له علمه عمل کول ډیرې وخت د ګټې پر ځای تاواني وي نو ځکه دا لازمي ده چې د دې میاشتې اړوند مسایلو باندې موږ ځانونه پوه کړو.

ketabton.com - The Digital Library


# د روژې مسئلې

**مسئله ۱:** د سهار د سپېدو څخه بيا تر لمر لوېدو پورې، په نيت کولو سره د خوراک، څښاک او نفسياتي خواهشاتو (کوروالي) پرېښودل، دغه عمل ته د شريعت په اصطلاح کې روژه ويل کيږي.

**مسئله ۲:** روژه د اسلام د پنځو ارکانو څخه يو رکن دی چې فرضيت يې په قرآن شريف، سنت نبي ﷺ او د امت په اجماع سره ثابت دی. [1]

**مسئله ۳:** د روژې د فرضيت څخه انکار کوونکی کافر دی او بې له عذر يې پرېښيدونکی سخت ګناهګار او فاسق دی. [2]

**مسئله ۴:** روژه پر هر مسلمان، عاقل، بالغ، مقيم او د روژې نيولو ځواک لرونکي داسې کس باندې فرض ده چې د موانعو (حيض و نفاس) څخه خالي وي. [3]

---

(1) بدائع الصنايع: ۷۵/۲، شامي: ۳۱۳/٦.

(2) بدائع الصنايع: ۷۵/۲، شامي: ۳۱۳/٦.

(3) بدائع الصنايع: ۷۵/۲، شامي: ۳۱۳/٦.

ketabton.com - The Digital Library



**مسئله ۵:** څوک چې لیونی وي، یا کوچنی وي، یا مسافر وي، یا د روژې نیولو ځواک نه لري، او یا هم یوه میرمن د حیض یا نفاس په حالت کې وي، پر دوی باندې روژه نیول فرض نه ده. [4]

**مسئله ٦:** پر نابالغ باندې روژه نه ده فرض خو هلک او انجلۍ چې ځواني ته نږدې وي، له روژې سره د عادت کولو په خاطر باید روژې ونیسي. [5]

## د نیت مسئلې

**مسئله ۱:** نیت د زړه د ارادې نوم دی، په ژبه سره د روژې نیت کول لازمي نه دي. [6]

**مسئله ۲:** کوم عربي توري چې په خلګو کې د نیت لپاره مشهور دي لکه **(و بصوم غدا نویت من شهر ...)** د دې هیڅ ثبوت په شریعت کې نشته، که یې څوک ثابت وبولي او وایي یې نو دا بدعت دی. [7]

---

(4) بدائع الصنايع: ۲/۷۵، شامي: ۳۱۳/٦.

(5) بدائع الصنايع: ۲/۷۵، شامي: ۳۱۳/٦.

(6) الفتاوی الهنديه: ۱۹۵/۱.

(7) الفتاوی الهنديه: ۱۹۵/۱.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۳:** د سهار د سپېدو څخه بيا تر لمر لوېدو پورې، د دې ټول وخت، نيمايي وخت ته په فقه کې نصف النهار شرعي وايي.[8]

**مسئله ۴:** که يو څوک د رمضان المبارک مياشتې د روژې نيولو اراده لري بهتره دا ده چې د شپې د روژې نيولو نيت وکړي، که يو څوک د شپې د روژې نيولو نيت ونه کړي، هغه لره پکار ده چې د نصف النهار شرعي تر مخه د روژې نيولو نيت وکړي په دې شرط چې خوراک او څښاک به يې نه وي کړي (يعني داسې کار به يې نه وي کړی چې روژه پرې ماتيږي).(9)

**مسئله ۵:** که يو څوک د روژې په مياشت کې داسې ووايي چې نن زما روژه ده يا مې نفلي روژه ده په دواړو صورتونو کې يې دغه روژه د فرضي روژې پر ځای دريږي ځکه د رمضان المبارک مياشت د فرضي روژې لپاره خاص او متعين ده. **(10)**

---

(8) **الفتاوی الهنديه:** ۱۹۵/۱.

(9) **الفتاوی الهنديه:** ۱۹۵/۱.

(10) **بدايع الصنايع** ۲۲۶/۲.

ketabton.com - The Digital Library



**مسئله ٦:** د روژې د میاشتې د هرې ورځې د روژې لپاره جلا جلا نیت کول لازمي او ضروري دی، د ټولې میاشتې لپاره یو نیت کول کفایت نه کوي. **(11)**

**مسئله ٧:** د شپې د روژې نیت کوونکی د سپېدو تر راختلو پورې خوراک، څښاک او کوروالی کولای شي، او دا کارونه یې د شپې پر نیت کوم اثر نه کوي او نه یې هم په ثواب کې کمی راځي. **(12)**

**مسئله ٨:** بې له نیت کولو باندې روژه نه صحیح کیږي که څه هم خوراک، څښاک او کوروالی یې پرېښې وي ځکه د فرضې روژې نیولو لپاره نیت حتمي او ضروري دی. **(13)**

---

(11) **فتاوی الهندیه: ۱۹۵/۱، شامي: ۳۸۰/۲.**

(12) **سورة البقرة: ۱۸۷.**

(13) **الفتاوی الهندیه: ۱۹۵/۱.**

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۹:** پېښلمي(پېشمنی) ته را کښېنستل او پېښلمی کول که څه هم يو غړپ اوبه وڅښي، همدا عمل يې د نيت پر ځای درېږي. **(14)**

## د روژې مفسدات

**مسئله ۱:** په خوراک کولو، څښاک او جماع کولو سره روژه فاسدېږي که قصدا وي او که په زور (اکراه) وي. [15]

**مسئله ۲:** که يو چا د روژه دار په خوله کې په زوره د خوراک يو شی ور واچوی او هغه د حلق څخه لاندې ولاړې نو روژه يې فاسد ده، قضاء پرې لازم ده بې له کفارې. [16]

**مسئله ۳:** د خولې مينځولو وخت کې که اوبه د روژه دار د حلق څخه لاندې بې له قصد ولاړې شي، روژه يې فاسد ده، قضاء پرې لازم ده بې له کفارې. [17]

---

[14] الفتاوى الهنديه: ۱/۱۹۵.

[15] الفتاوى الهنديه:۱/۲۰۲.

[16] الفتاوى الهنديه:۱/۲۰۲.

[17] الفتاوى الهنديه:۱/۲۰۲.

ketabton.com - The Digital Library



**مسئله ۴:** خاوره، ډبره يا دې ته ورته هر هغه شی چې د غذا، دوا يا لذت (خوند) په توګه نه استعمالیږي که يې قصدا وخوړی، روژه يې فاسد ده، قضاء پرې لازم ده بې له کفارې. [18]

**مسئله ۵:** په غوږ کې مایع دوا یا تیل اچول، روژه فاسدوي، د استعمال په صورت کې د روژې قضاء په لازمیږي بې له کفارې. [19]

**مسئله ٦:** د لمبیدو په وخت کې غوږ ته که اوبه ولاړې شي، د صحیح قول مطابق روژه نه فاسدیږي، که احتیاطا یوه روژه قضاء راوګرځوي بهتره ده. [20]

**مسئله ۷:** د روژې په حالت کې د بدن څخه که وینه راووځي، روژه نه فاسدیږي. [21]

**مسئله ۸:** د روژې په حالت کې د بل چا څخه وینه اخیستل یا بل چا ته وینه ورکولو سره روژه نه فاسدیږي خو دومره وینه به ورکوي چې روژه دار

---

[18] المحیط البرهانی: ۳۵۳/۳.

[19] المحیط البرهانی: ۳۴۷/۳.

[20] المحیط البرهانی: ۳۴۷/۳، شامي: ۳۹٦/۲، الفتاوی الهندیه: ۲۰٦/۱، خانیه: ۳٦۴/۲.

[21] بدایع الصنایع: ۹۲/۲.

ketabton.com - The Digital Library


کمزور نشي، د کمزورۍ په صورت کې وینه ورکول مکروه عمل دی خو بیا یې هم روژه نه خرابیږي.[22]

**مسئله ۹:** د غاښو ځخه راغلی وینه که تر حلق تېره شي نو څلور صورتونه دي:

**(۱).** وینه پر لاړې غالبه وي، **(۲)** وینه او لاړې سره یو شان وي، **(۳)** د وینو خوند په حلق (ستوني) کې حس شوی وي، که دغه درې صورتونو څخه یو صورت و نو بیا روژه فاسد ده، یواځې به قضاء راګرځوي بې له کفارې، **(۴)** چې په هغه دریو صورتونو کې یو صورت هم نه وي (یعني لاړې پر وینو غالب وي، د وینو خوند په حلق کې نه وي حس شوی) په دې صورت کې روژه نه فاسدیږي.[23]

**مسئله ۱۰:** د قی وهلو ډیر صورتونه دي خو یواځې په دوو صورتونو کې په قی روژه خرابیږي:

**اول:** چې په ډکه خوله قصدا قی ووهي، **دویم:** قی خو بی اختیاره راغلې وي، خو د یو نخود په اندازه یا زیات قصدا ورځخه تېر کړي او روژه یې هم

---

(22) **الفتاوی الهندیه: ۲۰۰/۱، بدایع الصنایع: ۹۳/۲.**

(23) **شامي: ۴۲۲/۳.**

ketabton.com - The Digital Library


په یاد وي، په دغه دواړو حالتونو کې یې روژه فاسد ده، یوائې قضاء پر سته بې له کفارې. [24]

**مسئله ۱۱:** په غاښو کې بند پاتې شی که یو څوک تېر کړي که دا شی د یو نخود په اندازه وي یا تر نخود ډیر وي نو روژه یې فاسد ده، قضاء پرې لازم ده بې له کفارې، او که تر یو نخود کم وي بیا روژه نه په فاسدیږي، او که چیري یو ځل د غاښو څخه هغه شی تر خولې را وباسي بیا یې تېر کړي، روژه یې فاسدیږي که دا شی لږ وي او که ډیر. [25]

**مسئله ۱۲:** که د پوزې وینه و بهیږي، او د پوزې له لارې تر ستوني لاندې ولاړه شي، روژه په فاسدیږي، قضاء به راوړي بې له کفارې. [26]

**مسئله ۱۳:** د روژې په حالت کې غاښ کاږل د اړتیا په وخت کې روا دی په دې شرط چې وینه او دوا به ستوني ته نه ځي، که چیرې دوا یا وینه

---

[24] شامي: ۴۵۱/۳-۴۵۰.

[25] شامي: ۱۷۹/۲.

[26] الفتاوی الخانیه: ۲۱۱/۱.

ketabton.com - The Digital Library


ستوني ته ولاړه شي او پر ناړو غالبه وي، یا یې خوند په ستوني کې محسوس شي، روژه یې فاسدیږي، قضاء به راګرځوي بې له کفارې. [27]

**مسئله ۱۴:** یو چا په هېره سره خوراک، څښاک وکی او یا یې لړ بې اختیار قی ووهی، (په دې صورتونو کې روژه نه ماتیږي) او دی فکر وکړي چې روژه مې ماته شوه بیا یې قصدا خوراک یا جماع وکړل نو په دا صورت کې یې روژه فاسدیږي، قضاء به راګرځوي بې له کفارې. [28]

**مسئله ۱۵:** یو څوک له خوب څخه د پېښلمي لپاره د سپېدو تر راختلو وروسته را کښیناستی او ده فکر وکی چې سپېدې نه دي را ختلي او خوراک وکړي وروسته خبر شي چې سهار شوی دی او یا هم د روژه مات پر وخت د وریځې له وجې یې فکر وکاوه چې د ماښام وخت را داخل شوی دی او روژه ماته کړي، وروسته خبر شي چې نه دی ماښام شوی، په دواړو صورتونو کې یې روژه فاسد سول، یواځې به قضاء رواړي. [29]

---

(27) شامیه: ۴۲۲/۳.

(28) بدایع الصنایع: ۲۵۷/۲.

(29) بدائع الصنائع: ۲۵۷/۲.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ١٦:** د روژې په حالت کې بیړی، سیگریټ، چلم څکول روژه فاسدوي او په دې سره یواځې قضاء لازمیږي نه کفاره. [30]

**مسئله ١٧:** د روژې په حالت کې قصدا د موټرانو یا د بل شی دود په خپل اختیار سره کشول، روژه فاسدوي، او قضاء په لازمیږي بې له کفارې. [31]

**مسئله ١٨:** د روژې په حالت کې نسوار کول، روژه فاسدوي او قضاء په لازمیږي بې له کفارې. [32]

**مسئله ١٩:** د روژې په حالت کې دوا مقعد ته داخلول که جامد وي او که سیال په دواړو صورتونو کې روژه په فاسدیږي، په دې سره قضاء لازمیږي نه کفاره. [33]

**مسئله ٢٠:** که روژه دار په اوبو، دوا او تیلو باندې لونده گوته خپل مقعد ته داخل کړي، روژه یې فاسد ده، قضاء پر شته نه کفاره. [34]

---

[30] الشامي: ٣٢٢/٣.

[31] الشامي: ٣٩٥/٢.

[32] الفتاوى الهنديه: ٣٩٥/٢ ، فتاوى دارالعلوم ديوبند: ٤٢٨/٣.

[33] الدر مع الرد: ٤٠٢/٢.

[34] فتاوى الهنديه: ٢٠٤/١.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۲۱:** که يو روژه دار ته د روژې په حالت کې احتلام وشي، او دې په دی نيت خوراک او څښاک وکړي چې روژه مې فاسد شوه، پر ده باندې قضاء لازميږي بې له کفارې - که څه هم احتلام روژې ته هيڅ ضرر نه رسوي- [35]

**مسئله ۲۲:** د روژې په حالت کې که يو څوک موټک ووهي (يعني خپل مني راوباسي) په دې سره روژه فاسديږي، قضاء پرې لازم ده بې له کفارې. [36]

**مسئله ۲۳:** که روژه دار مايع دوا پوزه کې واچوي، روژه يې خرابيږي، قضاء پرې لازميږي، او که جامد شی پوزه کې داخل کړي او هغه داخل ته نشي ولاړ، روژه يې نه فاسديږي او که د دې يقين وشي چې دوا تر داخل پورې ولاړل نو بيا په جامد شي باندې هم روژه فاسديږي. [37]

**مسئله ۲۴:** د روژې په حالت کې د خپلې ميرمنې سره د هغې په خوښه نږدېکت کولو باندې د دواړو روژه فاسديږي، او پر دواړو قضاء او کفاره

---

(35) **الشامي: ۲/۴۰۱-۴۰۶.**

(36) **الشامي: ۲/۳۹۹، البحر الرائق: ۲/۲۷۲.**

(37) **الشامي: ۲/۴۰۲.**

ketabton.com - The Digital Library


لازمیږي که څه هم یو لا انزال ته نه وي رسېدلې(یعني که د سړي د ذکر سر د میرمنې په فرج کې پټ شو او انزال و نه شي، هم قضاء او کفاره پر دواړو لازم ده). (38)

**مسئله ۲۵:** که روژه دار زیاتې اوښکې تېرې کړي یا د اوښکو څاڅکې په خوله کې جمع کړي بیا یې په یوه پلا تېرې کړي، روژه یې فاسد ده، قضاء پرې لازم ده بې له کفارې. (39)

## د روژې مکروهات

**مسئله ۱:** د روژې په حالت کې که یو څوک په خوله کې ډېرې لاړې یوځای کړي بیا یې په یوه پلا تېرې کړي، دغه کار مکروه دی او په مازې لاړو تېرولو سره روژه نه مکروه کیږي، روژه دار دې خپل لاړې تېروي، په دې خاطر دې نه توکې چې په دې سره مې روژه خرابیږي. (40)

(38) الشامي: ۲/۴۰۹.

(39) الشامیه: ۳/۴۳۴.

(40) الفتاوی الهندیه: ۱۹۹-۲۰۳.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۲:** د روژې  په حالت کې بې له عذره د یو شي خوند کتل مکروه دی.[41]

**مسئله ۳:** د روژې په حالت کې د غاښو کریم یا یو بل د غاښو د پاکولو شی (لکه دندانسه) استعمالول مکروه دي، که مازي ستوني ته یوه ذره هم ولاړه شي، روژه په فاسدیږي.[42]

**مسئله ۴:** بی له ضرورت یو شی ژول روژه مکروه کوي.[43]

**مسئله ۵:** د روژې په حالت کې ستن لګول که په غوښه کې وي او که په رګ کې، روژه نه فاسدوي او نه یې هم مکروه کوي، که چیري یو څوک د روژې په حالت کې د طاقت ستن په دې خاطر ولګوي چې د روژې اثرات کم کړي نو بیا ستن لګول مکروه کار دی خو بیا هم روژه نه فاسدیږي.[44]

---

(41) المحیط البرهاني: ۳۵٦/۳.

(42) الشامي: الفتاوی الهندیه: ۱۹۹/۱.

(43) الفتاوی الهندیه: ۱۹۹/۱.

(44) بدایع الصنایع: ۲۰۹/۲.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ٦:** د روژې په حالت کې د بې صبري له امله څو څو وار غسلونه کول او یا هم اودسونه کول، مکروه دي، که روژه دار د ګرمي له وجې غسل وکړي بې له کراهت جایز دی.[45]

**مسئله ۷:** د روژې په حالت کې بد نظري کول، غیبت کول، چغل خوري، پالتو او بې فایدې خبري کول، کښنځل کول (کنځل کول)، خلګ په عذابول، سروز او سندرې اورېدل، سریالونه او پروګرامونه کتل، دا ټول روژه مکروه کوي او د ټولې ورځې ثواب یې له منځه ځي.[46]

**مسئله ۸:** د خاوند لپاره خپل د ښځې شونډې د روژې په حالت کې په خوله کې اخیستل مکروه دي.[47]

**مسئله ۹:** د خاوند لپاره خپله میرمن په شهوت سره مسه کول، مچې ورځخه اخیستل، پر بدن یې لاسونه تېرول، ټول مکروه دي، که چیري په

---

[45] الشامیة: ۴۵۹/۳..

[46] الشامیة: ۴۲۸/۲.

[47] بدایع الصنایع: ۴۱۷/۲.

ketabton.com - The Digital Library


شهوت سره دا کارونه نه وو، بیا کراهت نشته، او که چیري په دې کارونو سره د انزال ویره وه او یا یې هم گمان و، بیا دا کارونه کول حرام دي.[48]

**مسئله ۱۰:** د روژې په حالت کې د داسې شیانو ویل، اورېدل او کتل چې انسان په شهوت کې راولي مکروه دي.[49]

**مسئله ۱۱:** توله ورځ د جنابت په حالت کې گرځېدل مکروه کار دی.[50]

**مسئله ۱۲:** په اودس او غسل کې د خولې او پوزې پرېولولو کې مبالغه کول مکروه دي.[51]

**مسئله ۱۳:** د استنجاء په وخت کې مقعد دومره په مبالغه سره پاکول چې دا شک ورځخه پیدا شي چې اوبه به داخل ته تللي وي، په داسې مبالغې سره استنجاء کول مکروه ده.[52]

---

[48] کتاب الفقه: ۹۲۷/۱، شامي: ۲۱۷/۲، و ۴۱۷.

[49] حجة الله البالغة : ۱۴۱/۲.

[50] ابو داود شریف: کتاب الطهارة.

[51] الفتاوی الهندیه: ۱۹۹/۱.

[52] الفتاوی الهندیه: ۱۹۹/۱

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۱۴:** پېشلمی ډېر څنډول چې د سپېدو د راختلو ویره ورڅخه پیدا شي، یعني دا شک ورڅخه پیدا شي چې سهار شوی به وي، دومره څنډول یې مکروه دي. (53)

## د هغو شیانو بیان چې نه روژه په ماتیږي او نه هم مکروه کیږي:

**مسئله ۱:** په هیره سره خوراک او څښاک کول، که څه هم ځان په موړ کړي او اوبه کړي، روژه نه په ماتیږي. (54)

**مسئله ۲:** د روژې په حالت کې عطر یا خوشبو بوی کول یا استعمالولو سره روژه نه خرابیږي که بوی یې هر څومره تیز وي. (55)

**مسئله ۳:** د روژې په حالت کې خوله په مسواک سره پاکول سنت ده، که څه هم عطر والا مسواک وي، وچ وي او که لوند، تریخ وي او که خوږ یا

(53) الفتاوی الهندیه: ۲۰۰/۱.

(54) الفتاوی الهندیه: ۲۰۲/۱.

(55) الشامیه: ۴۲۰/۳.

ketabton.com - The Digital Library



بل قسم وي په ټولو سره روژه نه خرابیږي، او که یې ریشې د چا څخه تېرې شي هم روژه نه په خرابیږي. (56)

**مسئله ۴:** په تیلو یا په بل شي باندې سر یا ټول بدن، غوړولو سره روژه نه خرابیږي. (57)

**مسئله ۵:** سترګي تورول، یا سترګو ته دوا وراچول روژه نه خرابوي که څه هم د دوا یا رنجو خوند په ستوني کې محسوس شي. (58)

**مسئله ٦:** د روژې په حالت کې که ښځه یا سړی، داسي خوب ووینې چې د هغه څخه غسل پرې فرض شي (احتلام ورته وشي) روژه یې نه خرابیږي. (59)

**مسئله ۷:** که مار، لړم یا بل زهر لرونکې خزنده روژه دار وچیچي (و یې خوري)، د روژه دار روژه نه په خرابیږي. (60)

---

(56) **الفتاوی الهندیه: ۱۹۹/۱.**

(57) **الشامیه: ۴۲۱/۳.**

(58) **الشامیه: ۴۲۱/۳.**

(59) **الفتاوی الهندیه: ۱۹۹/۱.**

(60) **بدائع الصانع: ۲۰۹/۲.**

ketabton.com - The Digital Library



**مسئله ۸:** لږ اوښکې تیرولو سره روژه نه خرابیږي لکه یو یا دوه څاڅکي. (61)

**مسئله ۹:** د روژې په حالت کې خپل نوکان اخیستل، تر قبضې زیاته ږیره کوچني کول، د بدن نور اضافه ویښتان ایسته کول، په ټولو سره روژه نه خرابیږي. (62)

**مسئله ۱۰:** د روژې په حالت کې چې د تیغ سره کومې اوبه ستوني ته را پورته شي، روژه نه په خرابیږي. (63)

**مسئله ۱۱:** تر لمر لوېدو وروسته بیا د سهار د سپېدو راختلو پورې په شپه کې خاوند او میرمن جماع کولای شي، په دې سره د راتلونکي ورځې روژه نه خرابیږي. (64)

---

(61) الشامیه: ۳/۴۳۴.

(62) البحر الرائق: ۲/۲۵۹.

(63) فتاوی رشیدیه: ۳۷۱.

(64) سورة البقرة.

ketabton.com - The Digital Library


# د روژې مستحبات

**مسئله ۱:** روژه مات تر لمر لويدو وروسته سمدستي (ژر) کول، او پېشلمي تر سپېدو تر مخه په آخر وخت کې کول، مستحب دی. [65]

**مسئله ۲:** مستحب دا ده چې روژه په خورما سره ماته شي هغه هم طاق عدد، که خورما نه وي په اوبو سره دې ماته کړل شي او يا په داسې شي سره چې پر اور نه وي پخ شوی. [66]

**مسئله ۳:** د روژه ماتې وروسته دعا کول يا دغه دعا ويل مستحب ده: **اللَّهُمَّ لَكَ صُمْتُ، وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ، ذَهَبَ الظَّمأُ وابتلَّتِ العُروقُ وثبَتَ الأجرُ إن شاءَ اللَّهُ.** [67]

**مسئله ۴:** د روژې په حالت کې ژبه د بدو او بې ځای خبرو څخه او د بدن ټول اعضاء د بدو کارونو څخه ساتل مستحب دي. [68]

---

[65] الفتاوى الهنديه: ۲۰۷/۱.

[66] مشکاة شريف: ۱۷۵/۱، مرقاة المفاتيح: ۲۵۷/۴.

[67] مشکاة شريف: ۱۷۵/۱.

[68] مرقاة المفاتيح: ۱۷۷/۴.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۵:** د روژې په میاشت کې نفلي صدقات کول، خیراتونه کول، دیني کتابونه مطالعه کول، د قرآن شریف تلاوت کول، درود شریف ډېر ډېر ویل، ذکرونه کول، او لا اله الا الله ویل، استغفر الله ویل، د جنت د غوښتلو دعاوې کول، او د دوزخ د اور څخه پناه غوښتل او ډیر خوب نه کول دا ټول مستحب کارونه دي.[69]

## د کفارې مسئلې

**مسئله ۱:** د روژې د میاشتي روژه په قصده ماتولو سره کفاره واجبیږي.[70]

**مسئله ۲:** د روژې کفاره به داسي ادا کوي: که ممکن وي مریې به آزادوي، که دا امکان و نه لري، شپیته (٦٠) روژې به پرلپسې په داسي ډول نیسي چې په منځ کې به یې یوه روژه هم نه خوري، که د روژې نیولو توان یې نه درلود بیا به شپیته (٦٠) مسکینانو ته د دوو وختونو ډوډې ورکوي یا به (٦٠) مسکینانو ته د سرسایې په اندازه غنم او یا د هغه قیمت ورکوي.[71]

---

(69) مشکاة شریف : ۱۷۵/۱.

(70) شامي ۴۱۲/۲.

(71) شامي: ۴۱۲/۲.

ketabton.com - The Digital Library



**مسئله ۳:** که یو څوک د کفارې روژې نیسي باید (٦٠) شپیته روژې پرلپسې ونیسي، که یې په منځ کې یوه روژه ورځخه پاتې شي، له سره به روژې نیسي او هغه مخکې چې یې څومره روژې نیولې وي د هغوی اعتبار نشته. (72)

**مسئله ۴:** د روژې د میاشتې روژه چې یو څوک ماته کړي کفاره پر لازمیږي، له دې ماسوا نورې روژې چې یو څوک ماتې کړي په هغوی کې کفاره نه لازمیږي لکه نفلي روژه، د نذر روژه او داسې نور... (73)

**مسئله ۵:** که د کفارې روژې یو چا د قمري میاشتې د لومړۍ نیټې څخه شروع کړې نو دوې قمري میاشتې دې روژې ونیسي دا فرق نه کوي که قمري میاشتې ۲۹، ۲۹ ورځې وي او که ۳۰، ۳۰ ورځې، او که یې د قمري میاشتې په منځ کې روژې شروع کړې نو بیا به خامخا (٦٠) شپیته روژې پوره کوي. (74)

---

(72) شامي ۴۱۲/۲.

(73) بدائع الصنایع: ۲۶۰/۲.

(74) الهندیه: ۲۱۵/۱.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ٦:** که د رَمَضَانْ المبارک د میاشتې څو مختلفې روژې یو چا ماتې کړې وي که څه هم په جماع سره وي، د ټولو لپاره به یوه کفاره ورکوي، او که د څو کلونو د روژې د میاشتو مختلفې روژې یو چا په خوراک او څښاک سره ماتې کړې وي، په دې صورت کې هم به یوه کفاره ورکوي، او که چا د څو کلونو د روژې د میاشتو روژې په جماع سره ماتې کړې وي، بیا به د هر کال د روژو لپاره جلا جلا کفاره ادا کوي. [75]

**مسئله ۷:** کوم مسکینانو ته چې د روژې په کفاره کې ډوډۍ ورکول کیږي، په هغه کې دا لازمي ده چې دغه مسکینان به وږي وي، که یې نسونه ډک وو، او ده ډوډۍ ورکړل کفاره یې نه صحیح کیږي. [76]

**مسئله ۸:** د کفارې په ډوډۍ کې دا نه ده ضروري چې (٦٠) مسکینانو ته به پر یو ځای ډوډۍ ورکوي بلکې که په څو ورځو کې څو مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي او (٦٠) تعداد پوره کړي کفاره یې ادا کیږي یعنې تسلسل نه دی پکې لازمي. [77]

---

(75) احسن الفتاوی: ۴۳۴/۳.

(76) ۴۷۹/۳.

(77) هندیه: ۵۱۴/۱.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۹:** که يو څوک غواړي چې کفاره په نقدو پيسو ادا کړي د هغه لپاره لازمي دا ده چې (۶۰) مختلفو مسکينانو ته به پيسې ورکوي که يې يو مسکين ته په يوه ورځ د (۶۰) کسانو پيسې ورکړلې نو دا پر يوه باندې حسابيږي.[78]

## د مريض، معذور، شيخ فاني او د فديې مسئلې

**مسئله ۱:** کوم څوک چې د ډير عمر وي او د ضعيفوالي آخري درجه کې وي او د روژې نيولو توان و نه لري، هغه به روژه نه نيسي بلکې فديه به ورکوي.[79]

**مسئله ۲:** کوم څوک چې داسې مريض وي چې نه هم روژې نيولې شي او نه هم په راتلونکې کې يې د جوړيدلو اميد وي، هغه به روژې نه نيسي بلکې فديه به ورکوي.[80]

---

[78] هنديه: ۵۱۳/۱.

[79] المحيط البرهانی: ۳۶۱/۳.

[80] المحيط البرهانی: ۳۶۱/۳.

ketabton.com - The Digital Library



**مسئله ۳:** د روژې فدیه دا ده چې د هرې روژې په بدل کې به یو مسکین ته د سرسایې په اندازه غنم ورکوي او یا به د هغه غنمو قیمت ورکوي (د سرسایې اندازه دا ده: نصف صاع غنم یعني پاو کم دوه کیلو غنم یا یې قیمت). [81]

**مسئله ۴:** که یو مریض د روژو فدیه ورکړې وي او بیا په آینده کې الله تعالی دته شفاء ورکړي او د روژو نیولو توان پیدا کړي نو دی به د هغه ټولو روژو قضاء را ګرځوي او کومه فدیه چې یې ورکړې ده د هغه ثواب به الله ﷻ دته جلا ورکړي. [82]

**مسئله ۵:** فدیه به د روژې د میاشتې د شروع کېدلو وروسته ورکوي که یو چا د روژو فدیه د رمضان المبارک د میاشتې تر مخه ادا کړل، دا نه صحیح کیږي، او که د روژې میاشت شروع شي بیا پروا نکوي د ټولې میاشتې دا پر یو ځای ادا کولای شي. [83]

---

[81] المحیط البرهاني: ۳/۳۶۱.

[82] فتاوی الهندیه: ۱/۲۰۷.

[83] فتاوی الشامي: ۳/۴۷۲.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ٦:** د ټولو روژو فدیه که یو مسکین ته په یوه ورځ، پر یو ځای ورکړي او که یې څو مسکینانو ته ورکړي، دواړه صورتونه جایز دي.[84]

**مسئله ۷:** که یو څوک سخت مریض وي او روژه نشي نیولای، هغه دې د هغې ورځي روژه پرېږدي وروسته چې جوړ شي د قضاء په نیت سره دي روژه ونیسي.[85]

**مسئله ۸:** د کوم مریض چې په راتلونکي کې د جوړېدلو امید وي، د هغه فدیه ورکول روا نه دي.[86]

**مسئله ۹:** که یو چا روژه نیولې وي او د ورځي سخت مریض شي، که روژه نه کړي ماته د مرض د زیاتېدولو ویره وي او یا یې د مړ کېدلو غالب گمان وي، نو دغه کس لپاره روژه ماتول روا دي، یواځي به په آینده کي قضاء راگرځوي، کفاره پر نشته.[87]

---

(84) شامي : ۴۲۷/۲.

(85) هندیه: ۲۰۷/۱.

(86) بدائع الصنایع: ۱۰۵/۱.

(87) هندیه: ۲۰۷/۱.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۱۰:** که مسافر مقیم شي، او د روژو نیولو توان ولري، هغه به د سفر په حالت کې د خوړل شوو روژې قضاء راوړي، فدیه ورکول روا نه ده. [88]

**مسئله ۱۱:** څوک چې د سفر اراده لري او شرعي فاصله موجود وي (۴۸ میل/۷۷.۲۴ کیلو میتره) د هغه لپاره بهتره دا ده چې روژه دي ونیسي که تکلیف نه و، او که تکلیف و، بیا دي روژه نه نیسي، وروسته دې یواځې قضاء راوګرځوي. [89]

**مسئله ۱۲:** که مسافر روژه نیت کړل او وروسته یې د ورځې د سفر په حالت کې بیرته ماته کړل، یواځې قضاء پر شته، کفاره نه پر لازمیږي. [90]

---

(88) هندیه: ۲۰۷/۱.

(89) هندیه: ۲۰۷/۱.

(90) شامي: ۴۳۱/۲.

ketabton.com - The Digital Library


# د میرمنو اړوند مسئلې

**مسئله ۱:** د کومې میرمنې خاوند چې بد خوی او غصه کوونکی وي، د هغې لپاره روا ده چې د دیګ، خوراک او ډوډی خوند وګوري.[91]

**مسئله ۲:** کومه میرمن چې د میاشتنې ناروغې په حالت کې وي، روژه دې نه نیسي وروسته دې قضاء راوړي، او د ورځې خوراک او څښاک کولای شي، خو د نورو مخته به یې نه خوري.[92]

**مسئله ۳:** که یوه میرمن حامله وي یا کوچنی ته شېدې ورکونکې مور وي او د دې غالب ګمان دا وي که روژه ونیسي، نو کوچني یا دې ته تاوان رسیږي، نو روژه دې نه نیسي وروسته دې قضاء راوړي.[93]

**مسئله ۴:** که یوه حامله د روژې په حالت کې خپل حمل د طبي ماشین آلاتو په ذریعه ګوري، روا او جایز دی، او که چیرې ښځینه ډاکټره خپل ګوته یا د لاسپوښ (دستکله) سره ګوته د معاینې لپاره د حاملې ښځې فرج ته ور داخل کړي، که یې ګوته یا لاسپوښ لوند و (د حاملې روژه فاسدیږي)

---

[91] فتاوی شامي: ۲/۴۱۲.

[92] البحرالرائق: ۲/۲۸۹.

[93] تاتارخانیه: ۲/۲۸۳.

ketabton.com - The Digital Library


یا ګوته او لاسپوښ وچ وي خو کله چې فرج ته داخل کړي او بیا یې را وباسي وروسته لونده شي بیا یې دویم ځلي دغه لونده ګوته ور داخل کړي، نو په دواړو صورتونو کې د حاملې ښځې روژه فاسدیږي، او که وچه ګوته یا وچ لاسپوښ فرج ته ور داخل کړي، روژه یې نه فاسدیږي.[94]

**مسئله ۵:** که یوه میرمن د روژې په حالت کې وي، او د ورځې په جریان کې میاشتني ناروغي ورته راشي، روژه یې فاسد ده، په دغه ورځ د خوراک او څښاک اجازه ورته شته، البته په آینده کې به د میاشتني ناروغي د نورو ورځو د قضایي سره د دغه ورځې قضاء هم راګرځوي.[95]

**مسئله ٦:** که یوه میرمن د کفارې روژې نیسي (د کفارې په بیان کې یې تفصیل تیر شوی دی) او د دغه روژو په منځ کې میاشتني ناروغي ورته راشي، دغه ناغه کفارې ته تاوان نه رسوي، چې په کومه ورځ پاکه شي د هغې ورځې څخه به روژه نیسي او خپل د کفارې (٦٠) شپیته روژې به پوره کوي، که چیرې د میاشتني ناروغي وروسته یوه ورځ هم روژه وخوري، نو له

---

[94] شامي: ۲/۲۹۷.

[95] فتاوی تاتارخانیه: ۲/۲۷۲.

ketabton.com - The Digital Library


نوي سر څخه به (٦٠) شپيته روژې نيسي، مخکې چې يې هرڅو روژې نيولې وي هغوی ته اعتبار نشته.[96]

**مسئله ۷:** که يوه ميرمن خپل فرج (شرمګاه) ته د روژې په حالت کې دوا داخل کړي، روژه يې فاسد ده، قضاء پرې لازميږي بې له کفارې.[97]

**مسئله ۸:** که يوه ميرمن خپل فرج (شرمګاه) ته لونده ګوته د روژې په حالت کې داخل کړي، روژه يې فاسديږي، قضاء پرې لازم ده بې له کفارې.[98]

**مسئله ۹:** که يوه ميرمن خپل فرج ته وچه ګوته داخل کړي، بيا يې را وباسي او هغه لونده وي، که يې بيا دغه لونده ګوته داخل کړل، روژه يې فاسد ده، قضاء پر لازم ده بې له کفارې.[99]

**مسئله ۱۰:** که د حاملې ښځې لپاره د روژې په مياشت کې د ورځې معاينه(طبي کتنې) ته سخته اړتيا وي، او دوا يا بل شی د ماشين يا لاس

---

[96] **البحر الرائق:** ۱۹۴/۱.

[97] **هنديه:** ۲۰۴/۱.

[98] **شامي:** ۳۹۷/۲.

[99] **شامي:** ۳۹۷/۲.

ketabton.com - The Digital Library


په ذریعه داخلولو ضرورت وي، نو بیا دې د هغې ورځې روژه نه نیت کوي، وروسته دې یواځې قضاء راوړي. [100]

**مسئله ۱۱:** که یو خاوند د روژې په حالت کې خپل د میرمنې فرج ته ګوته ور داخل کړي، که چیرې یې ګوته وچه وه روژه یې نه خرابیږي (خو دا ښه کار نه دی) او که د خاوند ګوته لونده وه نو د میرمنې روژه یې فاسدیږي، او پر میرمن قضاء لازمیږي بې له کفارې. [101]

**مسئله ۱۲:** که یو خاوند خپل د میرمنې شرمګاه ته ګوته ور داخل کړي او شهوت پر غالب شي، او دی دا فکر وکړي چې روژه مو ماته سول او د خپلي میرمني سره نږدیکت وکړي نو د دواړو روژه فاسدیږي، پر دواړو قضاء او کفاره لازمي ده. [102]

(100) شامي: ۲/۳۹۷.

(101) شامي: تبین الحقائق: ۱/۳۳۰.

(102) بدائع الصنایع: ۲/۱۰۰.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۱۳:** د روژې په حالت کې دي میرمن مایع شی خپل د بولو په ځای کې نه ایږدي، که یې کېږدي روژه یې فاسدیږي او قضاء پر لازمي ده. (103)

**مسئله ۱۴:** د ښځو لپاره پر شونډو سرخي، کریم، تیل یا واسلین لګول مکروه دي، که د دې شیانو ذرات ستوني ته ولاړ شي، روژه یې فاسدیږي، قضاء پرې لازمیږي بې له کفارې. (104)

**مسئله ۱۵:** خاوند نشي کولای چې د میرمنې پر ځای قضایي روژې ونیسي. (105)

**مسئله ۱٦:** که یو خاوند خپل د میرمنې د غټو بولو په ځای کې خپل عضو داخل کړي، د دواړو روژې فاسدیږي، پر دواړو قضاء او کفاره لازم ده، دا خبره باید واضح وي چې په اسلام کې د دې اجازه نشته چې د خپلې میرمنې

(103) شامي : ۲/۴۰۰.

(104) احسن الفتاوی: ۴/۴۳۴.

(105) بدائع الصانع: ۲/۱۰۳.

ketabton.com - The Digital Library



د غټوبولو په ځای کې جماع وکړي، که څه هم ښځه يې پر راضي وي، که يې څوک وکړي پر هغه باندې د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ لعنت دی.[106]

**مسئله ١٧:** د خاوند لپاره د روژې په حالت کې خپل د ميرمنې شونډان په خوله کې اخيستل مکروه دي، بايد ځان ورڅخه وساتي.[107]

**مسئله ١٨:** ميرمن د روژې په حالت کوچني ته شيدې ورکولای شي.[108]

**مسئله ١٩:** که يو ميرمن د روژې په مياشت کې د مياشتني ناروغي په حالت کې وي، او د ورځې پاکه شي، هغه دې تر لمر لويدو پورې خوراک او څښاک نه کوي، او د دغه ورځې په شمول د ناجوړې د نورو ورځو قضايي به په آينده کې را گرځوي.[109]

**مسئله ٢٠:** که حاملې ښځې ته وينه راشي، هغه به روژه نه ماتوي بلکې د نورو ورځو په شان به روژه نيسي او لمونځ به کوي ځکه دا وينه د مياشتنې

---

(106) شامي: ٢/٤٠٩، مشكاة شريف: ٣١٣.

(107) ٢/٤١٧.

(108) البحر الرائق: ٢/٢٧٨.

(109) البحرالرائق: ٢/٢٩١.

ketabton.com - The Digital Library


ناجوړې نه ده، دا د استحاضې وينه ده که هر څومره راشي، روژه نه په خرابيږي. (110)

**مسئله ۲۱:** که يوه ميرمن د روژې په مياشت کې د مياشتني ناروغي د بندولو دوا وخوري، ترڅو پورې چې مياشتني ناروغي بنده وي، د هغه وخت پورې دا ميرمن پاکه بلل کيږي، خپل روژې او لمونځونه به کوي، خو داسې دواوې خوړل که څه هم روا دي خو بعضې طبي ناروغياني ورڅخه پيدا کيږي بايد د يوه او ديندراه ډاکټر په مشوره سره وخوړل شي. (111)

**مسئله ۲۲:** که يوه ميرمن د ليکوريا (د شرمګاه څخه يې سپينه اوبه ډيرې راځي) په ناروغي اخته وي، هغه به روژه نيسي او روژه به نه خوري. (112)

**مسئله ۲۳:** د روژې په حالت کې که يو خاوند د خپلې ميرمنې سره نږديکت په زوره وکړي او د ميرمنې يې نه وي خوښه او خاوند ځو واره منع هم کړي، نو په دې صورت کې د دواړو روژه فاسديږي، پر ميرمن يواځې قضاء شته

(110) البحرالرائق: ۱۹۱/۱.

(111) فتاوی شامي: ۳۰٦/۱.

(112) شامي: ۱۴۹/۱.

ketabton.com - The Digital Library


او پر خاوند قضاء او کفاره دواړه لازمیږي او خاوند په دې سره گناهگار کیږي. (113)

**مسئله ۲۴:** د روژې په حالت کې د خاوند لپاره د میرمن ځیگر په خوله کې نیول مکروه دی، او که د ځیگر څخه شېدې د خاوند ستوني ته ولاړې شي پر خاوند باندې قضاء او کفاره دواړه لازمیږي. (114)

**مسئله ۲۵:** که د روژې په حالت کې یوه میرمن د حمل د مخنیوي په خاطر لوپ (loop) ور داخل کړي، روژه یې فاسد ده، قضاء پرې لازمیږي بې له کفارې، او که د سپېدو تر مخه یې ور داخل کړي، بیا یې روژه نه فاسدیږي. (115)

**مسئله ۲۶:** د ښځو لپاره په کور کې تراویح کول بهتره او افضل دي، د تراویح لپاره به ښځې مسجد ته نه ځي. (116)

---

(113) فتاوی الهندیه: ۲۰۵/۱.

(114) فتاوی الهندیه: ۲۰۰/۱.

(115) فتاوی شامي: ۳۶۹/۳.

(116) صحیح البخاري: حدیث شماره: ۸۶۹، ابو داود: ح: ۵۷۰، فتاوی شامي: باب الامامة.

ketabton.com - The Digital Library



**مسئله ۲۷:** که د یوې ښځې ماشوم ډېر کوچنی وي، او مور یې ډوډۍ ورکوي خو بل څوک نه وي چې دغه ډوډۍ یو ځل په ژولو پسته کړي او دغه ماشوم ته یې ورکړي، نو مور لپاره یې روا ده چې پخپل خوله کې یې وژوي او وروسته یې کوچني ته ورکړي، او که بل څوک موجود و، نو بیا د مور لپاره یې مکروه ده چې ډوډۍ په ژولو پسته کړي. (117)

**مسئله ۲۹:** که یوه میرمن خپل د بولو په ځای کې ټیشو پیپر (تشناب کاغذ یا پنبه کېږدي، او داخل ته ولاړه شي، روژه یې فاسدیږي، او که دغه تشناب کاغذ لږ د باندي پاتي وي، بیا یې روژه نه فاسدیږي. (118)

**مسئله ۳۰:** د روژې په حالت کې که یوه میرمن په سترګو کې لینز (مصنوعي د سترګو غمی) کېږدي، روا او جایز دی، روژه یې نه فاسدیږي. (119)

---

(117) **البحر الرائق: ۴۸۹/۲، شامي: ۳۹۵/۳.**

(118) **شامي: ۳۶۹/۳.**

(119) **الشامیه: ۴۲۱/۳.**

ketabton.com - The Digital Library



# د نوی ځوان شوي هلک او انجلۍ مسئلې

**مسئله ۱:** که نابالغ هلک یا انجلۍ د روژې په میاشت کې د ورځې بالغ شي، پر دوی باندي لازم ده چې خوراک، څښاک او د روژې فاسدونکي ټول شیان پریږدي، که په دغه ورځ خوراک یا څښاک وکړي، نو قضاء نه پر لازمیږي. (120)

**مسئله ۲:** که یو نابالغ هلک یا انجلۍ تر زوال ترمخه بالغ شي، او د دې ورځې د روژې نیت وکړي، نیت یې صحیح دی، دغه ورځ یې په فرضي روژه کې حسابیږي. (121)

(120) البحر الرائق: ۲/۲۸۸.

(121) البحر الرائق: ۲/۲۸۹.

ketabton.com - The Digital Library


# د روژې جدید مسئلې

**مسئله ۱:** د زړه د مریض لپاره روا ده چې د روژې په حالت کې هغه دوا چې تر ژبې لاندې ایښودل کیږي، کېږدي، په دې شرط چې د دوا حصه به ستوني ته نه ځي، که ستوني ته ولاړه سي، روژه یې فاسدیږي.[122]

**مسئله ۲:** د روژې په حالت کې وینه ورکول، یا د بل وینه ځان ته ور لګول یا ګلوکوز بدن ته ورکول، ټول روا او جایز دي.[123]

**مسئله ۳:** که د روژې په حالت کې یو څوک د دماغ یا نس عملیات وکړي، او د نس څخه یو شی، را وباسي، دوا او یا بل شی، دماغ او نس ته داخل نه کړل شي، نو په دې صورت کې یې روژه نه خرابیږي، او که یې دماغ او نس ته دوا یا بل شی ور داخل کړي، نو روژه یې فاسدیږي، قضاء پرې لازمیږي بې له کفارې.[124]

**مسئله ۴:** که د روژې په حالت کې یو څوک د دماغ او نس ماسوا د بدن د بل عضو عملیات وکړي، نو که د هغه عضو او دماغ یا نس تر منځ منفذ

---

[122] شامي: ۳/۳۹۵.

[123] الهندیه: ۱/۲۲۰، الدر مع الرد: ۳/۳۹۹.

[124] شامي: ۲/۴۱۰، ۳/۳۶۸.

ketabton.com - The Digital Library


(لاره) موجود نه وه، نو عمليات يې روژې ته هيڅ نقصان او تاوان نه رسوي، او كه منفذ موجود و، نو د **مسئله ۳** په شان يې حكم دى.[125]

**مسئله ۵:** د روژې په حالت كې مصنوعي غاښونه استعمالول روا او جايز دي.[126]

**مسئله ٦:** وكس يا د بام په شان د نورو دواوو استعمالول د روژې په حالت كې روا او جايز دى، او كه يو څوك وكس په ګرمو اوبو كې واچوي او وروسته يې دود كش كړي يا يې پر پوزه ولګوي او دننه ولاړ شي، په دواړو صورتونو كې روژه فاسديږي.[127]

**مسئله ۷:** د روژې په حالت كې انهيلر (د ساېندى د مريضانو لپاره استعماليږي) استعمالول، روژه فاسدوي، او قضاء په لازميږي بې له كفارې.[128]

---

[125] شامي: ۲/۴۱۰، ۳/۳٦۸.

[126] امداد الفتاوى: ۲/۱۴۲.

[127] فتاوى دارالعلوم:٦/۴۱۸.

[128] بدائع الصنائع: ۲/۵۳۵.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۸:** که یو څوک په روژه کې بې له انهیلر گذاره نشي کولای، نو هغه ته روژه پرېښودل روا دي، که جوړ شي، قضاء دې را وگرځوي، او که نشي جوړ، فدیه دې ورکړي. (129)

**مسئله ۹:** د روژې په حالت کې آکسیجن (OXYGEN) لگول روا او جایز دی په دې شرط چې په آکسیجن کې به یې نورې دواوې نه وي گډې کړې، او که چیرې د آکسیجن سره نورې دواوې گډې شوې وې، بیا روژه فاسدوي. (130)

**مسئله ۱۰:** د روژې په حالت کې انیما (ENEMA) استعمالول، روژه فاسدوي، انیما ته په کندهارې لهجه اماله وایې. (131)

**مسئله ۱۱:** د روژې په حالت کې وینه د معاینې لپاره ورکول روا او جایز دي، روژه نه په خرابیږي. (132)

---

(129) هندیه: ۵۱۳/۱.

(130) المراقي: ۲۴۱.

(131) بدائع الصنائع: ۲۲۲/۲ او تاتارخانیه: ۳٦٦/۲.

(132) بدائع الصنائع: ۲/ ۴۷٦ و ص ۹۲.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۱۲:** د روژې په حالت کې سونو ګرافي، الټرا ساونډ د بدن څخه د باندې کول، روژه نه فاسدوي، او داخلي سونو ګرافي روژه فاسدوي. چې د یوې آلې په ذریعه کیږي او ستوني یا د ښځې فرج ته هغه آله ور داخلوي، او د داخلولو مخکې بعضي مواد پرې وهې.[133]

**مسئله ۱۳:** د روژې په حالت کې فشار کتل، یا د زړه ګراف کتل روا او جایز دي، روژه نه خرابوي.[134]

---

[133] شامي: ۳۹۷/۲.

[134] بدائع الصنایع: ۹۲/۲.

ketabton.com - The Digital Library


# د تراويح مسئلې

**مسئله ۱:** د روژې په مياشت کې (۲۰) رکعته تراويح د نارينه او ښځو لپاره سنت موکده دي، نارينه وو لپاره په جماعت سره کول سنت على الکفايه دي، او د ښځو لپاره په کور کې تراويح کول افضل او بهتره دي.[135]

**مسئله ۲:** د تراويح شل رکعته په لس سلامونه کول سنت دي يعني د دوو دوو رکعاتو نيت به کوي، او د هر څلور رکعاتو وروسته به لږ کښيني، او دغه ناستې ته ترويحه وايي، د دغه ناستې په حالت کې به آرام کښيني، يا به تلاوت کوي، يا به دعا کوي، يا به درود شريف وايي، يا به تسبيحات وايي.[136]

**مسئله ۳:** ترويحه کې چې کومه دعا يو کس وايي او نور غوږ پرې نيسي دا روا کار دی، او که يې څوک نه وايي، پټه خوله کښيني، د دې اجازه هم شته، يعني خامخا به خلګ دا دعا لازمي نه ګڼي، او د دې دعا الفاظ په يوه حديث کې يو ځای نه دي راغلي البته په څو حديثونو کې يې يوه يوه

(135) هنديه: ۱/۱۱۵، خانيه: ۱/۲۳۳.

(136) هنديه: ۱/۱۱۵.

ketabton.com - The Digital Library


ټوټه ذکر شوې ده چې ټول سره یو ځای شي، دغه دعا ورڅخه جوړیږي.

(137)

**مسئله ۴:** د ماخستن د فرض لمانځه وروسته به تراويح كوي، بې له ماخستن لمونځ كولو د تراويح په جماعت كې ګډون روا نه دى.[138]

**مسئله ۵:** په تراويح كې قرآن شريف پوره ويل سنت دى، امام او مقتدي دواړو ته الله ﷻ د قرآن شريف د ويلو او اوريدولو ثواب وركوي كه څه هم مقتدي د امام قرات يواځي سماع كوي.[139]

**مسئله ٦:** يو ځل ټول قرآن شريف په تراويح كې ويل سنت دى، د خلګو د سستي له وجې به يې امام نه پريږدي بلكې يو ځل به ختم كوي.[140]

**مسئله ۷:** په تراويح كې د سورة الفيل (الم تر كيف) څخه بيا تر سورة الناس (قل اعوذ برب الناس) پوري سورتونه ويل روا دي، خو په دې سره يواځې د تراويح سنت ادا كيږي، د پوره قرآن شريف د ختم ثواب نشته ځكه

---

(137) **شامي: ۴٦/۲.**

(138) **خانيه: ۲۳۵/۱.**

(139) **الدر مع الرد: ۴٦/۲، هنديه: ۱۱۷/۱، تاتارخانيه: ۴۷۹/۱.**

(140) **الدر مع الرد: ۴٦/۲، هنديه: ۱۱۷/۱، تاتارخانيه: ۴۷۹/۱.**

ketabton.com - The Digital Library


قرآن شريف په تراويح کې ويل جلا سنت دی او تراويح کول جلا سنت دی. (141)

**مسئله ۸:** که فرض او وتر امام صاحب په جماعت سره ورکړي، او حافظ صاحب يوازې تراويح په جماعت سره ورکړي، دا روا عمل دی ځکه حضرت عمر ﷻ به فرض او وتر ورکول او حضرت ابي ابن کعب ﷻ به تراويح ورکولې. (142)

**مسئله ۹:** حافظ صاحب دي يوځل د يو سورت په شروع کې **بسم الله الرحمن الرحيم** په زوره سره ووايي او د نورو سورتونو د شروع کولو تر مخه دې کرار وايي. (143)

**مسئله ۱۰:** که يو څوک په ولاړه تراويح کولای شي، د هغه لپاره په ناستې تراويح کول مکروه دي. (144)

---

(141) **هنديه: ۱۱۹/۱، البحر الرائق: ۶۸/۲، الدر مع الرد: ۴۶/۲،**

(142) **هنديه: ۱۱٦/۱.**

(143) **شامي: ۴۹۱/۱.**

(144) **هنديه: ۱۱۸/۱.**

ketabton.com - The Digital Library



**مسئله ۱۱:** ډيرې خلګ داسي دي چې د حافظ صاحب سره د اول رکعت په شروع کې ګډون نه کوي، خپل سوچونه وهي يا شا او خوا ګوري، چې هر کله حافظ صاحب د اول رکعت رکوع ته ځي، ژر ژر نيت وتړي او اقتداء پسې وکړي، دا کار مکروه دی، بايد د شروع څخه ګډون وکړي. (145)

**مسئله ۱۲:** که د يو کس څخه فرض لمونځ تېر شوی وي او تراويح شروع وي، نو دې دي اول د ماخستن فرض لمونځ وکړي او دوه رکعت سنتونه دي وکړي، وروسته دي د تراويح جماعت کې ګډون وکړي، او چې کله وتر وشي نو چې هر څو رکعاته تراويح ورڅخه تيري شوي وي، هغه دي د وترو وروسته وکړي. (146)

**مسئله ۱۳:** په نابالغ پسې تراويح کول، روا نه دي. (147)

**مسئله ۱۴:** که يوه ورځ وروسته څوک خبر شي، چې د تېري ورځې تراويح يې فاسدي شوي دي، يا يې يو څو رکعتونه فاسد شوي دي، نو د هغه قضاء نشي راګرځولای نه په جماعت سره او نه هم يوازې، البته دومره کولای

---

(145) **هنديه: ۱۱۷/۱.**

(146) **خانيه: ۲۴۳/۱.**

(147) **المحيط البرهاني:۴۲/۲.**

ketabton.com - The Digital Library


شي چې د قرآن شريف ختم مکمل کولو په خاطر کوم قرآن چې يې په فاسد شوی رکعتونو کې ويلي و، هغه دي د دويمې شپې په تراويح کې ووايي. [148]

**مسئله ۱۵:** که سامع امام ته فتحه د قرآن شريف څخه په کتلو ورکړي، نو د سامع لمونځ فاسديږي او که امام يې فتحه واخلي د ټولو لمونځ فاسديږي. [149]

**مسئله ۱٦:** که د يو چا څخه د تراويح بعض رکعتونه پاتې شي، او شپه پر تيره شي، نو بله ورځ د پاتې رکعتونو قضاء نشي راګرځولای او نه هم قضاء پرې شته. [150]

**مسئله ۱۷:** نابالغ سامع جوړېدلای شي، او په اول صف کې د غټانو سره هم درېدلې شي په دې کې کراهت نشته. [151]

[148] هنديه: ۱۱۷/۱.

[149] هنديه: ۱۰۱/۱.

[150] هنديه: ۱۱۷/۱،

[151] احسن الفتاوی: ۵۱۷/۳.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۱۸:** تراويح به د روژې په ټوله مياشت کې کوي، بعضي خلګ د درېو ورځو يا د اوو ورځو ختم وکړي، بيا ټوله مياشت تراويح نه کوي، او يا د ۲۵ پورې د ختم تراويح وکړي، بيا نوري تراويح نه کوي، دا کار کول مکروه دی.[152]

**مسئله ۱۹:** که يو چا په هېره سره څلور رکعت تراويح پر يو ځای وکړلې، نو که پر دوهم رکعت يې ناسته کړې وه، څلور سره رکعتونه يې صحيح دي او په دا صورت کې سجده سهو هم نه پرې لازمېږي، او که يې پر دوهم رکعت ناسته نه وه کړې، اول دوه رکعتونه به بيرته راګرځوي، يواځې يې آخري دوه رکعاتونه صحيح دي او په دا صورت کې به سجده سهو خامخا کوي او که يې سجده سهو و نه کړل يو رکعت يې لا هم نه صحيح کيږي، ټول به بيرته راګرځوي.[153]

---

(152) هنديه: ۱/۱۱۸، شامي: ۲/۴۷،

(153) الفتاوی الخانيه: ۱/۲۳۸-۲۴۰.

ketabton.com - The Digital Library



# د اعتکاف مسئلې

**مسئله ۱:** د روژې د میاشتې په آخرو لسو ورځو کې د عبادت په نیت سره په مسجد کې اوسېدلو ته سنت اعتکاف وايي چې دا سنت علی الکفایه دی يعني که په کلي کې يو کس وکړي د ټولو غاړه پرې خلاصيږي.[154]

**مسئله ۲:** د سنت اعتکاف لپاره لازمي ده چې د شلمې (۲۰) روژې د لمر لويدو تر مخه مسجد ته داخل شي او د اعتکاف نيت د لمر لويدو تر مخه وکړي، که يو څوک د لمر لويدو تر مخه مسجد ته داخل شي خو نيت د لمر لويدو وروسته وکړي، دا اعتکاف يې مسنون نه بلل کيږي.[155]

**مسئله ۳:** معتکف لپاره مستحب ده چې خپل ځان ته پرده را څورنده کړي ترڅو په ښه توګه عبادت وکړي.[156]

**مسئله ۴:** د نارينه په شان ښځې هم کولای شي چې اعتکاف وکړي خو ښځې به د اعتکاف لپاره په کور کې خاص ځای مشخص کوي، او هلته به پرده را ځړوي، بې له طبيعي او شرعي عذر څخه به د باندي نه راوځي،

---

(154) فتاوی الهنديه: ۲۱۱/۱.

(155) هنديه: ۲۱۱/۱.

(156) فتح القدير: ۳۰۵/۲.

ketabton.com - The Digital Library



د ښځې لپاره په کور کې اعتکاف کول داسې دی لکه د نارینه لپاره په مسجد کې اعتکاف کول. (157)

**مسئله ۵:** د نارینه لپاره په کور کې اعتکاف کول روا او جایز نه دي، نارینه به خامخا په داسې مسجد کې اعتکاف کوي چې هلته اذان او اقامت کیږي او پنځه وخته لمونځ په جماعت سره کیږي، او د اعتکاف لپاره تر ټولو غوره ځای د مکې شریفې مسجد الحرام دی، بیا د محمد ﷺ مسجد دی، بیا بیت المقدس شریف دی، بیا جامع مسجد دی، بیا هغه مسجد دی چې مقتدیان یې ډیر وي او د هغه وروسته خپل د کلي مسجد د اعتکاف لپاره غوره دی. (158)

**مسئله ٦:** میرمن به د اعتکاف لپاره خپل له خاوند څخه اجازه اخلي او که یې خاوند منع کړي، اعتکاف به نه کوي، که چیرې د خاوند په اجازه سره اعتکاف وکړي نو په دغه موده کې به کوروالی نه کوي. (159)

---

(157) هندیه: ۲۱۱/۱.

(158) هندیه ۲۱۱/۱.

(159) هندیه: ۲۱۱/۱.

ketabton.com - The Digital Library



**مسئله ۷:** د معتکف لپاره په داخل مسجد کې خوراک، څښاک، خوب کول روا دی، او د اوداسه لپاره به د مسجد د حدودو څخه د باندې ځي. (160)

**مسئله ۸:** د معتکف لپاره په داخل مسجد کې خبرې کول، روا دي، په اشارو به خبرې نه کوي او نه هم دا ثواب لري، البته په داخل مسجد کې باندېار جوړول او مجلسونه کول مکروه تحریمي دي. (161)

**مسئله ۹:** معتکف لپاره په داخل مسجد کې سګرېټ څکول، یا چلم څکول روا نه دي او نه به هم له دې لپاره دباندې وځي، که یو څوک بیخي د سګرېټو عادي وي، هغه چې کله اودس ته وځي، نو په لاره کې دې یې څکوي او وروسته دې په اوداسه کې خوله ښه پاکوي چې د بوی څخه یې خلګ په عذاب نشي، که د یو چا د خولې څخه همیشه د سګرېټو بوی را وځي د هغه لپاره اعتکاف جایز نه دی. (162)

**مسئله ۱۰:** لاندې کارونو سره اعتکاف فاسدیږي:

---

(160) هندیه: ۱/۲۱۲.

(161) هندیه: ۱/۲۱۳.

(162) مشکاة المصابیح: ٦٨، شامي: ۲/۵۲۵.

ketabton.com - The Digital Library


- بې له طبیعي (قضاء حاجت) یا شرعي (غسل، اودس یا د جمعې لمونځ) عذر د مسجد څخه د باندې وتل،
- روژه ماتول،
- د اعتکاف په وخت کې نږدیکت کول،
- ښځې ته میاشتني ناروغي یا د کوچني ناروغي راتلل،
- د مریض پوښتني او د جنازې لمانځه لپاره وتل،
- د عذر په وجه د مسجد څخه وتل خو هلته بې له ضرورت زیات وخت تیرول. [163]

**مسئله ۱۱:** بې له ضرورت دې معتکف ټیلفون نه استعمالوي، او نه به ټیلفون کې ګیمونه کوي څکه یو خو د وخت ضیاع ده او بل د مسجد بې حرمتي ده. [164]

**مسئله ۱۲:** که د یو چا څخه اعتکاف فاسد شي، هغه به په راتلونکي کې د اعتکاف قضاء را ګرځوي، که یې د ورځې فاسد کړی وي، د ورځې قضاء به را ګرځوي یعني د سهار تر سپیدو ترمخه به مسجد ته داخلیږي او د لمر لویدو وروسته به د مسجد څخه وځي، او که یې د شپې فاسد کړی وي نو

---

[163] فتح القدیر: ۳۱۱/۲، البحر الرائق: ۲۹۹/۲.

[164] الدر مع الرد: ۴۴۸/۲.

ketabton.com - The Digital Library


د ۲۴ ساعته اعتکاف به را ګرځوي یعني د لمر لویدو تر مخه به مسجد ته داخلیږي او بله ورځ چې لمر ولویږي بیا دي د مسجد څخه ووځي، په دواړو صورتونو کې به روژه نیسي.[165]

## د صدقة الفطر (سرسایې) مسئلې

**مسئله ۱:** د روژې د میاشتي د روژو د شکرانه لپاره الله تعالی پر هر صاحب نصاب مسلمان باندي صدقه واجب کړې ده او دغه صدقې ته صدقة الفطر وایي چې زموږ په وطنو کې سرسایه ورته ویل کیږي.[166]

**مسئله ۲:** دغه سرسایه به هر صاحب نصاب خپل د ځان، نابالغ اولادونو، بالغ فقیر اولادونو او ښځي له طرفه فقراء او مساکینو ته ورکوي.[167]

[165] احسن الفتاوی: ۵۱۱/۴.

[166] هندیه: ۱۹۱/۱.

[167] هندیه: ۱۹۱/۱.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۳:** د سرسايې نصاب کې لاندي پنځه شيان داخل دي څوک چې د ضرورت شيانو څخه پرته ذکر شوي شيان ولري نو هغه د نصاب خاوند دی او سرسايه ورکول پر واجب ده، هغه پنځه شيان دا دي:

1. ۷.۵ اووه نيمې تولې سره زره،
2. ۵۲.۵ دو پنځوس نيمې تولې سپين زر(٦١٢ گرام)،
3. مال تجارت چې قيمت يې دو پنځوس نيمې تولې سپينو زرو ته رسيږي،
4. د ضرورت څخه زائد سامان،
5. نقدي پيسې چې د دو پنځوس نيمې تولې سپينو زور د قيمت برابر وي. [168]

**مسئله ۳:** که د يو چا سره خالي سره زر وي او دغه نور پورته ۴ شيان نه وي، نو هغه لپاره د سرسايې نصاب ۷.۵ اووه نيمې تولې سره زرو قيمت دی، او که د يو چا سره سره زر (طلاء)، مال تجارت، نقدي پيسې، سپين زر او د ضرورت څخه زائد سامان موجود وي، يا په دغه شيانو کې د بعضو مجموعه ورسره وي، نو د هغه لپاره بيا د سپينو زرو نصاب چې دو پنځوس نيمو توليو سپينو زرو قيمت دی، د سرسايې نصاب دی يعني د دغه ټولو

---

[168] شامي: ۲/۳٦۰.

ketabton.com - The Digital Library


شیانو مجموعي قیمت به معلومولی که قیمت یې د دو پنځوس نیمي تولې سپینو زرو قیمت ته ورسیږي، یا زیات وي نو سرسایه ورکول پر واجب ده او که نه رسېدې نو بیا دغه کس صاحب د نصاب نه بلل کیږي. (169)

**مسئله ۴:** مال تجارت هغه مال ته وايي چې د خرڅولو په نیت رانیول شوی وي او تر اوسه پوري یې دغه نیت پاتي وي، که چیري یې د خرڅولو په نیت نه وي رانیولې یا یې د خرڅولو په نیت خو رانیولې وي خو فعلا د خرڅولو اراده نه لري نو دغه مال ته بیا د تجارت مال نه ویل کیږي. (170)

**مسئله ۵:** د اوسېدلو کور، د اغوستولو جامې، د کور موټر، شخصي اسلحه، د خوراک او څښاک سامان او د کور هغه شیان چې کله ناکله د استعمالولو ضرورت ورته پیدا کیږي، دغه ټول شیان ضرورت اصلیه کې داخل دي او دغه په نصاب کې نه شمېرل کیږي. (171)

**مسئله ٦:** که یو څوک قرضدار وي او د نصاب مالک هم وي، که د پور په اندازه پیسې د ده د مال څخه د منها کولو وروسته دومره سامان پاتي دی

(169) هندیه: ۱۷۹/۱.

(170) الفقه الاسلامي و ادلته: ۷۹۲/۲.

(171) شامي: ۲٦۲/۲..

ketabton.com - The Digital Library


چې قیمت یې د دو پنځوس نیمي تولې سپینو زرو په اندازه و یا تر دغه زیات و، نو پر ده سرسایه ورکول واجب دي، که نه پاتې دی نو سرسایه ورکول نه پر واجبیږي.[172]

**مسئله ۷:** کومه ښځه چې د نصاب مالکه وي، هغه به خپله سرسایه پخپله ورکوي، که یې خاوند ورکړي، نو استحسانا کفایت کوي.[173]

**مسئله ۸:** پلار به د هغه زوی له طرفه سرسایه نه ورکوي کوم چې صاحب د نصاب وي، که یې ورکړي، نو استحسانا کفایت کوي یعني د زوی د سرسایې پر ځای دریږي.[174]

**مسئله ۹:** سرسایه لاندي کسانو ته ورکول روا نه ده:

- هغه څوک چې خپله د نصاب خاوند وي که څه هم یتیم وي او یا کونډه وي،
- خپل مور، پلار، نیکه، انا او د دوی آباء و اجداد ته،
- خپل زامنو، لونو او د دوی اولادونو ته،

---

(172) بدائع الصنایع: ۲/۷۰.

(173) هندیه: ۱/۱۹۳.

(174) هندیه: ۱/۱۹۳.

ketabton.com - The Digital Library


- خاوند او میرمن خپل سرسایه یو بل ته نشي ورکولای.

پورته کسانو ته سرسایه ورکول روا نه ده که یې څوک ورکړي هغه به بیرته خپل سرسایه دویم ځل مستحق کسانو ته ورکوي،

له دې ماسوا ټولو قریبانو، فقراء او مساکینو ته سرسایه ورکول روا او جایز ده، که یې قریبانو کې غریبان وي، هغوی ته ورکول ډیر ثواب لري.[175]

**مسئله ۱۰:** سرسایه د کوچني اختر د سهار د سپېدو وروسته واجب کیږي، که یو ماشوم د سپیدو تر مخه پیدا شي، یا غریب مالدار شي، یا کافر مسلمان شي، نو پر دوی صدقه الفطر ورکول واجب ده، او که د سپیدو وروسته، یو څوک وفات شي، یا مالدار غریب شي نو پر دوی هم صدقة الفطر ورکول واجب ده، او څوک چې د سهار تر سپیدو تر مخه وفات شي، یا مالدار غریب شي، پر دوی صدقة الفطر ورکول واجب نه ده.[176]

---

[175] **هندیه: ۱۸۸/۱، شامي: ۳۵۱/۲.**

[176] **هندیه: ۱۹۲/۱.**

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۱۱:** مستحب دا ده چې سرسایه د کوچني اختر تر مخه مستحق خلګو ته ورکول شي ترڅو هغوی اختر ته خپل ضروریات پوره کړي او د نورو مسلمانانو سره د اختر په خوشالیو کې ځانونه شریک کړي.[177]

**مسئله ۱۲:** سرسایه کې به لاندي شیان ورکوي یا به د لاندي شیانو قیمت ورکوي او قیمت ورکول یې افضل دي:

- نصف صاع غنم یعني پاو کم دوه کیلو غنم یا یې قیمت،
- یوه صاع اوربشې یعني درې نیم کیلو یا یې قیمت،
- یوه صاع خورما یعني درې نیم کیلو یا یې قیمت،
- یوه صاع کشمش یعني درې نیم کیلو یا یې قیمت،
- او که یو څوک وریجې، جوارې یا نور حبوبات په سرسایه کې ورکول غواړي، هغوی به د نصف صاع غنمو د قیمت په اندازه دغه حبوبات ورکوي.[178]

---

(177) هندیه: ۱/۱۹۲.

(178) هندیه: ۱/۱۹۱.

ketabton.com - The Digital Library


**مسئله ۱۳:** که یو چا روژې نه وي نیولي او صاحب د نصاب وي هغه باندې هم سرسایه ورکول واجب ده یعني د سرسایې ورکولو لپاره روژه نه ده شرط. (179)

## تمت بعون الله

الحمد لله! **د حنفي فقهي مطابق د روژې مهمې مسئلې** په نامه رساله پای ته ورسېدل، الله تعالی دې قبول او مقبول وګرځوي، الله تعالی دې د ټولو مسلمانانو لپاره د فایدې وړ وګرځوي، د ټولو لوستونکو څخه د دعا په هیله!

**مفتي سید عمر آغا عفی الله عنه**

**۱۴۴۷/۹/٦ هـ ق**

**۱۴۰۴/۱۲/۴ هـ ش**

**۲۳ فروري ۲۰۲٦ء**

---

(179) شامي: ۲/۳۵۹.

ketabton.com - The Digital Library


**ورځ: دو شنبه، د شپې ۱۱:۵۷ بجې، فراه ولایت – افغانستان**

# د مؤلف په اړه

مفتي سید عمر آغا  د اسلامي علومو یو ژور او متعهد عالم دی، چې د افتاء او قضاء په برخه کې یې لوړې زده کړې بشپړې کړې دي. هغه د قرآن کریم حافظ دی او په عربي، دري، پښتو او انګلیسي ژبو خبرې او لیکل په مهارت سره ترسره کوي.

له ډېرو کلونو راهیسې، نوموړی د دارالافتاء الاحناف آنلاین دارالافتاء سره همکار دی، چې په کې د محترم مفتي عصمت الله عاصم په شمول یو بشپړ ټیم د امت مسلمه د دیني او شرعي پوښتنو، ځوابونه د حنفي فقه په رڼا کې وړاندې کوي.

مفتي سید عمر آغا خپلې علمي زده کړې په څو مشهورو مدارسو کې ترسره کړې دي، لکه:

- الجامعة الاسلامیة،
- الجامعة مفتاح العلوم،
- الجامعة انوار العلوم الصدیقیة،
- الجامعة فاروقیة - کراچي،
- الجامعة سیدنا ابراهیم النخعي رَحِمَهُ اللَّهُ.

همدارنګه، محترم مفتي سید عمر آغا د شیخ الحدیث و القرآن مولانا سید حبیب الله الحسني رَحِمَهُ اللَّهُ له ځانګړو شاګردانو څخه دی، چې د دې مبارک استاد علمي لارښود یې د شخصیت او فقهي ژوروالی نور هم لوړ کړی دی، الله تعالی دې د شیخ صاحب

ketabton.com - The Digital Library


قبر د نور څخه ور ډک کړي، او اولادونه ته دې الله تعالی په دنیا او آخرت کې کامیابي ور نصیب کړي. آمین

ښاغلی مفتي صاحب د سیدنا امام حسین رضي الله عنه د اولاد څخه دی، د هغه د خاندان مبارکه سلسه په لاندې ډول ده:

مفتي سید عمر آغا ابن نقیب احمد آغا ابن سید محب الله آغا (ملنگ آغا) ابن سید خیر الدین آغا (خلوتي آغا) ابن سید محمد یار آتش نفس ابن محمد آمین ابن خالقداد ابن عبدالرحیم ابن ملي صاحب ابن میران شاه ابن مفسر القرآن مولانا محمد یعقوب چرخي ابن عثمان چرخي ابن محمود چرخي ابن سید محمد ابن سید هني ابن شیخ سید محمد (حمزه) گیسودراز بابا ابن سید غفار ابن سید عمر ابن جعفر قائم قاین ابن محمد سید رجال ابن اسماعیل ابن امام جعفر صادق ابن امام باقر ابن علي زین العالِدین ابن حضرت حسین ابن حضرت علي كرم الله وجهه، رضي الله عنهم و رحمهم الله جميعا. (180)

---

(180) **لاندې کتابونو کې د مولف د سلسله نسب په هکله معلومات موجود دي:**

**آئین اکبري، تاریخ فرشته، مخزن الافغاني، تاریخ افغاني، صولت افغاني، تاریخ خورشید جهان، حیات افغاني، تاریخ افاغنه، المعالی شرح آمالی، خزینة الاسرار، بیاض سادات، تذکره سادات سلسلة الذهب، بحرالانوار، حضرت القدس، History of the Afghan 1828 P1 او مشواني ابن سید گیسودراز.**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*